# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه شپږ میاشتنۍ تازه معلومات: د ۲۰۲۱ کال د جنوري ۱ تر جون ۳۰

د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ۵۱۸۳ ملکي تلفات (۱۶۵۹ مړه او ۳۵۲۴ ټپیان) مستند کړي. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ نیمه یې په پرتله د وژل شویو او ژوبل شویو ولسي وګړو شمیر ۴۷ سلنه زیات شوي چې د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د کمېدو د تیرو څلوروکلونو جریان په شا تمبوي، چې ملکي تلفات یو ځل بیا د ریکارډ لوړې کچې ته پورته شوي کوم چې له ۲۰۱۴ څخه تر ۲۰۱۸ پورې د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې مشاهده شوي.

د ښځو، نجونو، هلکانو او نارینه ملکي تلفات زیات شوي. د ځانګړې اندېښنې وړ ده چې یوناما د ریکارډ تر کچې د وژل شویو او ژوبل شویو نجونو او ښځو شمیرې او دغه راز د ماشومانو د تلفاتو لوړې شمیرې مستندې کړې. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ نیمه یې په پرتله د وژل شویو او ټپي شویو ښځینه ماشومانو (نجونو) او لویانو ښځو شمیر نږدې دوه برابره زیات شوی. د نارینه ماشومانو (هلکانو) ملکي تلفات ۳۶ سلنه او د لویانو نارینه وو ملکي تلفات ۳۵ سلنه لوړ شوي.

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې او د تیر کال د ورته مودې په پرتله، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله په ملکي تلفاتو کې نږدې درې برابر زیاتوالی مستند کړی. دا له کوم وخت راهیسې چې یوناما په افغانستان کې په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستندونه پیل کړې، د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله تر ټولو زیات ملکي تلفات ګڼل کیږي. همدارنګه د ځمکنیو نښتو له امله ملکي تلفات چې  عمدتا طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو

ته منسوب شوي، د پام وړ زیات شوي. د دولت ضد عناصرو له خوا هدفي وژنې[1] په ورته ډول په په لوړه کچه دوام درلود. د دولت ځواکونو د هوایي بریدونو له امله چې عمدتا افغان هوایي ځواک ته منسوب شوي، د زیات شمیر ملکي تلفاتو لامل شوي.




---

[1] د یوناما د هدفي وژنو شمیرې دواړه هغه ملکیان چې په عمدي ډول په نښه شوي او نور هغه چې د غیر ملکیانو د په نښه کولو پرمهال په تصادفي ډول اغېزمن شوي، رانغاړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې د راپور د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

په نورو کې راتلونکي هغه شامل دي: د ځانمرګو بریدونو له امله ۹۲ ملکي تلفات (۱۴ مړه، ۷۸ ټپیان)؛ د تښتونو/اختطافونو له امله ۴۰ ملکي تلفات (۲۹ مړه، ۱۱ ټپیان)؛ د ګواښ/تهدید/ځورونې د پېښو له امله ۳۸ ملکي تلفات (شپږ مړه، ۳۲ ټپیان)؛ د زیاتې قوې کارونې (د ځواکونو له خوا د اخطاریو په پام کې نه نیولو/د ځواکونو د ساتنې د پېښو له امله ۲۶ ملکي تلفات (۱۱ مړه، ۱۵ ټپیان)؛ د دولت پلوه ځواکونو له خوا د چاپېزو عملیات پرمهال اته ملکي وګړي وژل شوي؛ یو ملکي وګړی د طالبانو د موازي عدلي جوړښت د سزا د تطبیق له امله وژل شوی؛ یو ملکي وګړی ملکي شتمنۍ ته د عمدي زیان اړولو په پېښه کې ټپي شوی؛ او د نورو پېښو له امله څلور ملکي تلفات (یوه مړینه او څلور ژوبلې).

**یوناما د ۲۰۲۱ کال د مۍ-جون په میاشتو کې د لومړیو څلورو میاشتو د تلفاتو د نږدې ټول شمیر په برابر د ملکي تلفاتو د ریکارډ تر کچې شمیر مستند کړی.**

یوناما په ملکي تلفاتو کې د هغه زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده کوم چې په اپریل میاشت کې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا له افغانستان څخه د وتلو له اعلان او بیا د ځواکونو د وتلو وروسته رامنځ ته شوي، له کوم وروسته چې طالبانو د ولسوالیو د پام وړ شمیر اداري مرکزونه ونیول.

د ۲۰۲۱ کال د مۍ د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما ۲۳۹۲ ملکي تلفات ثبت کړي، چې نږدې له ټولو هغو تلفاتو سره برابر دي چې د کال په لومړیو څلورو میاشتو کې مستند شوي.[2] له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي، د۲۰۲۱ کال په مۍ-جون کې د ملکي تلفاتو شمیر د ریکارډ تر کچې تر ټولو لوړ وو. سربېره پر دې یوناما د ملکي شتمنیو د تخریب ګڼې پېښې مستندې کړي، چې زیاتره یې پر ګڼ میشتو کلیوالي سیمو د ولکې د ټینګولو او د ولسوالیو او ولایتي مرکزونو په څنډو کې د جګړو په پایله کې رامنځ ته شوي.

یوناما دغه راز د روانو جګړو له امله په ځپل شویو ټولنو کې د وژنو، ناوړه چلند، تعقیب او تبعیض د زیات شمیر راپورونو په اړه اندېښمنه ده. په ځانګړي ډول د جګړو د شدت پر مهال، ټولې ښکېلې خواوې باید د خلکو بشري حقونو او وقار ته درناوی وکړي او د دغه ډول تیریو او سرغړونو مخنیوی وکړي.

پر ملکي وګړو د جګړې دوامدار او زیاتېدونکی اغېز د جګړې د ښکېلو لورو له خوا یوه خواشینونکې ناکامي په ډاګه کوي، څو د سولې مذاکراتو پرمهال ملکي وګړو ته د زیان د راکمولو کومه وسیله بیاموي. د ۲۰۲۰ کال له سپتمبر راهیسې – د افغانستان د سولې د مذاکراتو پیل – یوناما د تیر کال د عین نهه میاشتنۍ مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۴۶ سلنه زیاتوالی مستند کړی.[3] د نظامي حل تعقیبول به یوازې د افغان وګړو کړاو لا پسې زیات کړي. افغان مشران د سیمې او نړیوالې ټولنې په ملاتړ، باید د سولې لپاره د خلکو غوښتنه ملاحظه کړي او ځواب ورکړي. د افغانستان د خلکو په پار، د جګړې د ښکېلو لورو له خوا باید هڅې ترسره شي څو د جګړو له ډګرونو لرې او د مذاکراتو میز ته ستانه شي.

### د پېښو د نوعیت په اساس ملکي تلفات

د ۱ جنوري تر ۳۰ جون ۲۰۲۱




[2] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما ۲۷۹۱ ملکي تلفات مستند کړي.

د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۲۱ کال د جون تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د تیر کال د ورته مودې د ۵۴۴۹ ملکي تلفاتو (۲۰۳۰ مړه او ۳۴۱۹ ټپیان) په پرتله، ۷۹۸۲ ملکي تلفات (۲۵۵۳ مړه او ۵۴۲۹ ټپیان) مستند کړي.

*د ملکي تلفات مخکښ لاملونه*

یوناما یو ځل بیا دواړو طالبانو او افغان ملي اردو ته په منسوب شوي ملکي تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو کارونه د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و. دغو توکو د راپور ورکولو په موده کې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه هغه اړولي چې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو شمیر نږدې درې برابره زیاتوي. ځمکنیو نښتو د ټولو ملکي تلفاتو ۳۳ سلنه اړولي، چې نږدې دغه ټول تلفات طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي. د ۲۰۲۰ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو شمیر ۴۱ سلنه لوړ شوي.

د دولت ضد عناصرو[4] له خوا هدفي وژنې د ملکي تلفاتو دریم مخکښ لامل و، چې د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۱۴ سلنې مسوولې وې او په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې پر مهال له مشاهده شویو شمیرو سره ورته وې.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوايي بریدونه اته سلنه ملکي تلفات اړولي، چې نږدې ټول یې افغان هوايي ځواک ته منسوب شوي. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ نیمه یې په پرتله، په هوايي بریدونو کې د وژل شویو او ټپي شویو ملکیانو ټولټال شمیر ۳۳ سلنه لوړ شوي. څرنګه چې نړیوالو نظامي ځواکونو کم شمیر هوايي بریدونه ترسره کړي، د افغان هوايي ځواک د بریدونو له امله ملکي تلفات له دوه برابرو زیات شوي.

*د جګړې ښکېلو خواوو ته د تلفاتو منسوبونه*

دولت ضد عناصر د ټولټال ملکي تلفاتو د نږدې ۶۴ سلنې مسوول وو: ۳۹ سلنه د طالبانو له خوا، نږدې نهه سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې له خوا، او ۱۶ سلنه د نامعلومو دولت ضد عناصرو له خوا.




[4] د هدفي وژنو له امله نږدې ټول ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې د هغو تاکتیکو او پېښو په اړه چې ملکیانو ته تر ټولو زیات زیان اړوي، وګورئ. د یوناما د هدفي وژنو شمیرې دواړه هغه ملکیان چې په عمدي ډول په نښه شوي او نور هغه چې د غیر ملکیانو د په نښه کولو پرمهال په تصادفي ډول اغېزمن شوي، رانغاړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې د راپور د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

دولت پلوه ځواکونه د ملکي تلفاتو د ۲۵ سلنې مسوول وو: ۲۳ سلنه د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا، او نږدې دوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو او نا معلومو دولت پلوه ځواکونو له خوا.[5]

یوناما د فرقه یيزې انګیزه لرونکو بریدونو په ګډون د هغو بریدونو د دوام په اړه ډیره اندېښمنه ده کوم چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي.

یوناما پاتې ۱۱ سلنه ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو پرمهال د "ډزو تبادلې" ته په عمده ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ، چېرې مشخص مسوول لوری نه شوای معلوم کېدای (نهه سلنه)، او "نورو" ته په عمده ډول له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو ته چېرې چې مسوول لوری نه شوای معلوم کېدای (دوه سلنه) منسوب کړي.

په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۶۳ سلنه لوړ شوي، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو شمېر ۳۰ سلنه لوړ شوی.

په لا زیاتو تفصیلاتو ویشلو سره، یوناما د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دواړو طالبانو (۳۶ سلنه) او افغان ملي اردو (۴۵ سلنه) ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په شمېر کې زیاتوالی مستند کړی، چې طالبان[6] د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۹ سلنې، او افغان ملي اردو[7] د ۱۸ سلنې تلفاتو مسوول ګڼل کېږي. د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولټال ملکي تلفاتو نږدې نهه سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي، چې په ۲۰۲۰ کال کې په ورته موده کې د مستند شوي شمېر په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

*پر ښځو، سړیو، نجونو او هلکانو د اغېز شننه*

یوناما د وژل شویو او ژوبل شویو ښځو او نجونو د ریکارډ د کچې شمیرو او دغه راز د ماشومانو د عمومي تلفاتو د ریکارډ د کچې د شمیرو په ګډون د هغو ښځو، نجونو او هلکانو په شمیر کې د پام وړ زیاتوالي په اړه ډېره اندېښمنه ده څوک چې د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټه او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ وژل شوي یا ژوبل شوي.

د راپور ورکولو په موده کې د ښځو د ټولټال ۷۲۷ تلفاتو (۲۱۹ مړي او ۵۰۸ ټپیانې) په درلودو سره، ښځې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۴ سلنه جوړوي چې د ۲۰۲۰ کال[8] د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۸۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دولت ضد عناصر د ښځو د تلفاتو د ۵۷ سلنې مسوول وو، په داسې حال کې چې دولت پلوه د ۳۱ سلنې مسوول ګڼل کېږي، او د ډزو تبادله/نور د ښځو د پاتې ۱۲ سلنه تلفاتو لامل وو. د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ځمکنۍ نښتې چې د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کېږي، د ښځو د ټولو تلفاتو د ۳۵ سلنې مسووليت ګڼل کېږي، چې د ښځو د ټولو تلفاتو د ۴۶ سلنې لامل شوي. د دې په تعقیب غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي د ښځو د تلفاتو د ۳۵ سلنې، هدفي




[5] یوناما ۶۸ ملکي تلفات (۳۴ مړه او ۳۴ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي. پر دې سربېره یې ۳۰ ملکي تلفات (۹ مړه او ۲۱ ټپیان) د نا معلومو دولت پلوه ځواکونو هوايي بریدونو ته او یوه وژنه یې عمدي وژنې ته منسوب کړې.

[6] یوناما د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ طالبانو ته ۲۰۴۴ ملکي تلفات (۶۹۹ مړه او ۱۳۴۵ ټپیان) منسوب کړي.

[7] یوناما د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ افغان ملي اردو (د افغان هوايي ځواک په ګډون) ته ۹۳۶ ملکي تلفات (۲۹۲ مړه او ۶۴۴ ټپیان) منسوب کړي.

[8] د ۲۰۲۰ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ هغې ترمنځ، یوناما د ښځو ۴۰۰ تلفات (۱۳۹ مړي و ۲۶۱ ټپیانې) مستند کړي.

وژني (د دې په شمول چېرې چې د نارینه وو په نښه کولو پرمهال ښځې په تصادفي ډول اغېزمنې شوي) د نهه سلنې، او هوایي بریدونو د اوه سلنې مسوول ګڼل کېږي.

**د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله ملکي تلفات ۴۲ سلنه زیات شوي**

د ۳۹ هدفي وژنو د پېښو له جملې چې د ښځو د تلفاتو لامل شوي، داسې ښکاري چې ښځې د ۱۸هغو اصلي هدف وې چې د څلور ښځو د مړینې او ۲۵ نورې د ژوبلې لامل شوي.[9]

د ماشومانو تلفات د ټولو ملکي تلفاتو ۳۲ سلنه جوړوي، چې د ۲۰ سلنه هلکانو او ۱۲ سلنه نجونو څخه تشکیل دي. د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما د ماشومانو ۱۶۸۲ تلفات (۴۶۸ مړه او ۱۲۱۴ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۲۰ کال[10] د لومړیو شپږو میاتو په پرتله ۵۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. په دې کې د نجونو ۶۲۲ تلفات (۱۷۱ مړې او ۴۵۱ ټپیانې) او د هلکانو ۱۰۴۱ تلفات (۲۹۳ مړه او ۷۴۸ ټپیان) شامل دي. د نجونو تلفات چې نږدې دوه برابره زیات شوي، تر ټولو لوړه کچه په ډاګه کوي چې تر دې دمه ثبت شوې، او د هلکانو تلفات ۳۶ سلنه زیات شوي.[11]

دولت ضد عناصر د ماشومانو د ټولو تلفاتو د ۵۰ سلنې مسوول ګڼل کېږي په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونه د ۳۴ سلنې مسوول دي، او د ډزو تبادله چې د ځمکنیو نښتو پرمهال رامنځ ته شوي د ماشومانو د تلفاتو د ۱۲ سلنې لامل دي. ځمکنیو نښتو د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۴۰ سلنه اړولې چې په تعقیب یې غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي (۳۶ سلنه)، هوایي بریدونه (۱۱ سلنه) او له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي د ماشومانو د تلفاتو عمده لاملونه ګڼل کېږي. د اندېښنې وړ ده چې هدفي وژنې (چې په عمده ډول لویان په نښه شوي، چېرې چې ماشومان په تصادفي ډول اغېزمن شوي) د ماشومانو د تلفاتو د پنځه سلنې مسوولې ګڼل کېږي.

ماشومان لږ تر لږه په یوه مورد کې په قصدي ډول په نښه شوي. تر ټولو زړه بګنوونکې پېښه په کابل ښار کې د سید الشهداء ښوونځې مخې ته پېښه شوه، چې له امله یې له ۳۰۰ څخه زیات ملکي تلفات رامنځ ته شول چې زیاتره یې نجونې او ځوانې ښځې وې، او د برید مسوولیت هېڅ لوری پر غاړه وانخیست (د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې، په عمدي ډول د ملکي وګړو د په نښه کولو برخه وګورئ).

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نارینه د ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه جوړوي، چې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله د وژل شویو او ټپي شویو لویانو په شمیر کې ۳۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

### په عمدي ډول د ملکي وګړو په نښه کول

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا، په ځانګړي ډول د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو او ډزو د کارونې له لارې د بشري حقونو د مدافعینو، رسنیو د کارمندانو، دیني مشرانو، د دولت د ملکي کارمندانو، د بشري مرستو د کارکوونکو په ګډون په عمدي ډول د ملکي وګړو په نښه کولو د بریدونو د دوام او د فرقه ییزې انګیزې لرونکو بریدونو چې د هزاره توکمه ټولنې غړي او شیعه مذهبه لړکي[12] په نښه کوي، په ژور ډول اندېښنمنه ده.

د دولت ضد عناصرو له خوا په هغو بریدونو کې چې پر ملکي وګړو ترسره شوي د غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودېدونکو توکو کارونه په مشخص ډول د اندېښنې وړ ګڼل کېږي. د دغه ډول بریدونو په پایله کې، یوناما د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۷۳۷ ملکي تلفات (۱۷۸ مړه او ۵۵۹ ټپیان) مستند کړي، چې په ۲۰۲۰ کال کې په ورته موده کې د دغه ډول پېښو له امله د ملکي تلفاتو د شمیر په پرتله له څلور برابرو زیات شمیر کېږي.

یوناما د شیعه مذهبه لړکیو چې زیاتره یې هزاره توکمه لړکي دي، په وړاندې د فرقه ییزې انګیزې لرونکو عمدي بریدونو بیا زیاتېدل مشاهده کړي، چې د نږدې ټولو مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا پر غاړه اخیستل شوی. په دې کې د غیر

---

[9] داسې بریدونې چې ښځې د راتلونکو لاملونو له کبله په نښه شوي: (۱) مسلکي تړاو (افغان ملي پولیسو افسرانې، د جزایي/قضایي کارمندانې، قاضیانې، د رسنیو کارکونکې)؛ (۲) د دولت یا افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ په تور، افغان ملي امنیتي ځواکونو ته جاسوسي کول؛ (۳) د طالبانو له خوا په "غیر اخلاقي" کړنو، زنا تورنېدل.

[10] د ۲۰۲۰ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما د ماشومانو ۱۰۸۳ تلفات (۳۴۲ مړه او ۷۴۱ ټپیان) مستند کړي.

[11] د ۲۰۲۰ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما د نجونو ۳۱۶ تلفات (۱۷۱ مړې او ۴۵۱ ټپیانې) او د هلکانو ۷۶۵ تلفات (۲۹۳ مړه او ۷۴۸ ټپیان) مستند کړي.

[12] په افغانستان کې زیاتره شیعه مذهبه مسلمانان هزاره توکم دي او په اصلي ډول د سني مذهبه افغان وګړو په پرتله یو اقلیت تشکیلوي.

یوناما د ځمکنۍ نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې ۴۱ سلنه زیاتوالی مستند کړی؛ ښځې او ماشومان په نامتناسب ډول د دواړو لورو له خوا ملکیانو ته د زیات شوي زیان له امله اغېزمن شوي

انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکو توکو او ډزو هغه لړۍ شامله ده، کومې چې یوازې په مۍ-جون میاشتو کې هغه بسونه یا ورته نقلیه وسیلې یې په نښه کړي کومو چې هزاره توکمه وګړي انتقالول. په مجموعي ډول، د ۲۰۲۱ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې او جون د ۳۰ هڅې ترمنځ، یوناما له ټولو تاکتیکونو ۲۰ داسې پېښې مستندې کړي چې شیعه مذهبه/هزاره توکمه یې په نښه کړي او د ۵۰۰ ملکي تلفاتو (۱۴۳ مړه او ۳۵۷ ټپیان) لامل شوي.

پر ملکیانو د غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودېدونکو توکو د بریدونو له امله د ملکي تلفاتو نږدې نیمه  یې د یوه برید له امله رامنځ ته شوي – کوم چې په کابل کې د سید الشهداء د مۍ د ۸ برید ګڼل کېږي.

*په کابل کې د سید الشهداء پر ښوونځي د مۍ د ۸ برید*

د مۍ پر ۸ نېټه، شا و خوا ۱۶:۲۰ بجې، د ورځې د لیک لوست د پای ته رسېدو او له ښوونځي څخه په زرګونو نجونو او ځوانو میرمنو د وتلو پرمهال په موټر کې ځای پر ځای شوي غیر انتحاري  په لاس جوړ شوي چاودېدونکو توکو ډک موټر ښوونځي ته څېرمه د یوه کلینیک دروازې په مخکې چاودنه وکړه. څو دقیقې وروسته، د ښوونځي دروازې ته نږدې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو دویمه چاودنه وشوه. دریېمه هغه یې د ښوونځي پر سړک رامنځ ته شوه. په مجموعي ډول، د د ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو چاودنو لږ تر لږه ۸۵ ملکیان (۴۲ نجونې، ۲۸ ښځې، نهه نارینه، درې هلکان، او درې د نا معلوم جنسیت لویان) ووژل او لږ تر لږه ۲۱۶ نور (۱۰۶ نجونې، ۶۶ ښځې، ۲۴ نارینه، او ۲۰ هلکان) ټپیان کړل. برید په یوه داسې سیمه کې رامنځ ته شوی چې اصلي اوسېدونکي یې هزاره توکم دي، او په دې ترتیب، نږدې ټول قربانیان هزار توکم او په شیعه مذهبه لړکیو پورې اړه لري. د دغه برید مسوولیت هېڅ لوري پر غاړه نه دی اخیستی. د ملي امنیت ریاست د برید په اړه څېړنې پیل کړې، چې پایلې یې د دغه راپور تر خپرېدو پورې له خلکو سره نه دي شریکې شوي. د دغه وحشیانه برید په اړه د ټولنې پراخ غبرګونونه راوپارېدل چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون زیات شمیر یې د ملګرو ملتونو له خوا د اقدام ترسره کولو غوښتنه کوله لکه د حقیقت موندنې د یوې خپلواکې اداري ټاکل کومه چې وکولی شي په دې وروستیو میاشتو کې د دغه او ده ته ورته د نورو بریدونو مسوول لوري معلوم کړي، څرنګه چې زیات شمیر خلکو د دولت د پېښې د څېړلو او د مسوولو مرتکبینو د محاکمه کولو د وړتیا په اړه اندېښنه څرګنده کړه.[13] د بشري حقونو شورا ته په خپله اعلامیه کې، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرې دغه برید په ځانګړي ډول د یوې هیښوونکې پېښې په څیر په ډاګه کړ، او د وضعیت د چټک خرابې یادونه یې وکړه او شورا یې وهڅوله چې "خپله څارنه زیاته کړي او د موثر مخنیوي د غبرګون لپاره میکانیزمونه په پام کې ونیسي."[14]

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د دولت ضد عناصرو له خوا هغه هدفي وژنې چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي د ۲۰۲۰ کال د لومړیو شپږو میاشتو پرمهال په ورته کچه دوام درلود، چې په دغو بریدونو کې نږدې ۳۰۰ ملکیان وژل شوي او نږدې ۲۰۰ نور ټپیان شوي.[15] په یادو بریدونو کې په پراخه کچه مختلف ډول ملکي وګړي په نښه شوی ، په هغو کې چې پدې کې د بشري مرستو رسوونکي هم شامل دي، او دا د ځانګړې اندېښنې وړ ده.

*د هالو ټرسټ پر ماین پاکانو د جون د ۸ نېټې برید*

د جون پر ۸ نېټې، د بغلان ولایت، بغلان جدید ولسوالۍ شیخ جلال کلي ته څېرمه، ماښام ناوخته وسله وال کسان د هالو ټرسټ کمپ ته ننوتل چېرې چې د نوموړې اداري له ۱۰۰ زیات ماین پاکان میشت وو. وسله والو کسانو ماین پاکان راغونډ کړل او د هغوی توکي او وسایل لکه موبایلونه او پیسې یې ورڅخه واخیستل او بیا پر هغوی بې توپیره ډزې وکړې چې له امله یې ۱۱ نارینه ووژل شول او ۱۵ نور یې ژوبل شول. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست.

*د پولیو واکسینو پر کارمندانو د جون د ۱۵ نېټې برید*

---

[13] د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون اعلامیه پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.aihrc.org.af/home/press_release/9123

[14] https://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=27178&LangID=E

[15] د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي هدفي/عمدي وژنې په کومو کې چې ملکیان ټاکل شوي هدف و، د ۴۵۷ ملکي تلفاتو (۲۷۶ مړه او ۱۸۱ ټپیان) لامل شوي، دغه شمیرې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له ثبت شوي شمیر سره ورته دي چېرې چې یوناما د دغه ډول بریدونو له امله ۵۰۲ ملکي تلفات (۲۷۱ مړه او ۲۳۱ ټپیان) مستند کړي وو.

یوه اونۍ وروسته د جون پر ۱۵ نېټه، د ننګرهار ولایت په جلال آباد ښار، خوګیاڼو او سرخرود ولسوالیو کې په پنځو جلا جلا بریدونو کې د پولیو شپږ نارینه واکسیناتوران داسې مهال ووژل شول او درې نورې ټپیان شول، کله چې یې کور په کور د پولیو واکسین تطبیقول. هېڅ ډلې د دغو بریدونو مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی او په دې سره د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ننګرهار ولایت کې  په نښه شویو او وژل شویو واکسیناتورانو شمیر نهو ته لوړ شو. تر دې پخوا د مارچ پر ۳۰ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د هغو بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی کومو چې د پولیو درې ښځینه واکسیناتوراني په نښه کړې او ووژلې.

ښځې او ماشومان د ځمکنیو نښتو او د غیر مستقیمو وسلو تلفاتو دوه پر درې برخه جوړوي، په عمده ډول د هاوانونو او سرګلولو له امله چې د هغوی پر کورونو لګیږي، چیرې چې هغوی پناه اخیستې

یوناما دولت ضد عناصرو ته یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د نړیوال قانون له مخې په عمدي ډول د ملکي وګړو په نښه کولو بریدونه منع دي او ښایي جنګي جرمونه وشمیرل شي.[16] دا پر دولت ضد عناصرو غږ کوي چې د ملکي هغه تعریف تطبیق کړي کوم چې له نړیوال قانون سره په تطابق کې دي او زر تر زره د ملکي وګړو په نښه کول ودروي.

## هغه تاکتیکونه او د پېښو ډولونه چې ملکیانو ته تر ټولو زیات زیان اړوي

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو کارونه د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کېږي، ځکه چې د دغو وسیلو له امله ملکي تلفات د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې د دغو وسیلو له امله د ملکي تلفاتو د ثبت شوي شمیر په پرتله نږدې درې برابره لوړ شوی.[17] غیر انتحاري موټر بمونو او په لاس جوړ ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو فشاري ماینونو د او ځای په ځای شوی شویو چاودېدونکو توکو زیاتره ملکي زیان اړولی، ځکه چې یوناما دغه راز د هغو ملکي تلفاتو په شمیر کې درې برابره زیاتوالی مستند کړي کوم چې د ځای په ځای شویو  چاودېدونکو توکو دغو ډولونو ته منسوب شوي.[18]

په لاس جوړ  ځای په ځای  شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو کارونه، چې نږدې ټول یې د طالبانو له خوا ترسره شوي، په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو ۴۲ سلنه زیات ملکي تلفات اړولي.[19] د ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو فشاري ماینونه د قرباني په وسیله د فعالېدونکو وسیلو په څیر، هر څوک چې پر خېږي– د ماشومانو په ګډون – یا هره نقلیه وسیله چې تیرېږي، فعالېږي. دولت ضد عناصرو په عامه سیمو کې چې په مکرر ډول د ملکیانو له خوا کارول/لیدل کېږي، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو خښول جاري ساتلي. یوناما زیات شمیر داسې پېښې مستندې کړې چېرې چې دغه وسیلې پر هغو سړکونو خښ شوې کوم چې هغه سیمو ته لاړ دي چې د دولت ضد عناصرو تر کنټرول لاندې دي، او همدارنګه دغه وسیلې په کلیو کې د ملکیانو د کورونو په شاو خوا کې او د هغوی د ننه پرېښودل شوي له کومو چې هغوي په دې وروستیو کې کوچېدلي. د مثال په ډول د مۍ پر ۹ نېټه، د زابل ولایت په ترنک و جلدک ولسوالۍ کې، د سړلې یو بس چې له کابل څخه کندهار ته پر لار و، پر فشاري ماین ور برابر شو، چې له امله یې ۱۱ ملکیان (یو هلک، درې ښځې، او اوو سړي) ووژل شول او ۴۰ نور (۱۲ ماشومان، شپږ ښځې او ۲۲ سړي) ژوبل شول. یوناما دغه راز د ۲۰۲۱ کال په لومړیو میاشتو کې د کندهار ولایت په اندراب ولسوالۍ کې، له نوموړې ولسوالۍ څخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د طالبانو له ایستلو وروسته په لسګونو ملکي تلفات مستند کړي.

[16] غیر نړیوالې وسله والې جګړې د معاهداتو د قانون، په ځانګړي ډول د ۱۹۴۹ کال د څلورو کنوانسیونونو دريیمه مشترکه ماده ("۳ مشترکه ماده") او د هغوی د دویم الحاقي پروتوکول، او همدارنګه د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون له لارې تنظیمېږي. په جنګي جرمونو کې د هغو کسانو په وړاندې چې په جګړه کې برخه نه اخلي، ژوند او شخص په وړاندې د تاوتریخوالي په ګډون هغه کړنې شاملې دي کوم چې د ۳ (۱) مشترکې مادې له خوا منع شوي؛ هغه کړنې او اعمال چې د دویم الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې له خوا منع شوي؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول د ملکي وګړو یا ملکي شیانو په وړاندې ترسره کیږي. د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې ۸ (۲)(سی)، ۸ (۲)(ای)(آی) ماده؛ د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څیړنه، ۱۵۶ قاعده.

[17] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله په ۲۰۲۰ کال کې د د ۶۹۸ ملکي تلفاتو (۲۲۲ مړه او ۴۷۶ ټپیان) په پرتله ۱۹۵۸ ملکي تلفات (۵۰۱ مړه او ۱۴۵۷ ټپیان) مستند کړي.

[18] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شوی موټر بمو له امله په ۲۰۲۰ کې د ورته مودې د ۳۵۷ ملکي تلفاتو (۱۷۰ مړه او ۱۸۷ ټپیان) په پرتله ۱۰۰۲ ملکي تلفات (۳۱۶ مړه او ۶۸۶ ټپیان) مستند کړي.

[19] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې پر مهال د ۳۱۹ ملکي تلفاتو (۱۶۰ مړه او ۱۵۹ ټپیان) په پرتله ۴۵۴ ملکي تلفات (۲۱۶ مړه او ۲۳۸ ټپیان) اړولي.

یوناما په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله د افغان هوايي ځواک له خوا د هوايي بریدونو له امله له دوه برابرو زیات د ملکي تلفاتو شمیر مستند کړی

یوناما پر دې ټینګار کوي چې د قرباني په وسیله د فعالېدونکو وسیلو په خیر، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو فشاري ماینونو کارونه ښايي د بشرپالنې نړیوال قانون د هغوي د بې توپیره ماهیت له امله نقض کړي.[20] دغه وسیلې چې یو ځل ځای پر ځای او فعالې شي، د فشاري ماین کاروونکی د دې ورتیا نه لري چې اغېزې یې د یوه مشخص هدف په لورې سوق کړي، چې د دغه کار له امله ملکیان له سخت خطر سره مخ کېږي. یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوي چې په دايمي ډول د دغو بې توپیره وسیلو کارونه منع کړي او په دې اړه یو ځل بیا طالبانو ته د هغوي د پخواني مشر ملا عمر د ژمنو یادونه کوي.[21]

دغیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای  شویو چاودېدونکو توکو موټر بمونو د ۲۰۲۰ کال[22] د لومړیو شپږو میاتو پر مهالو د دغو وسیلو له امله د ملکي تلفاتو د شمېر په پرتله په ملکي تلفاتو کې لس برابره هېښوونکې زیاتوالی رامنځ ته کړی. د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د غیر انتحاري د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو موټر بمونو له امله د ټولو ملکي تلفاتو نږدې دریمه برخه د دوو بریدونو له امله رامنځ ته شوي – په کابل ښار کې پر سید الشهداء ښوونځې د مې ۸ برید کوم چې له ۳۰۰ څخه  زیاتو ملکي تلفاتو لامل شو (د لا زیاتو معلوماتو لپاره پورته د ملکیانو د عمدي په نښه کولو په اړه برخه وګورئ) او د اپریل پر ۳۰ نېټه د لوګر ولایت په پل علم کې د ازرې د خلکو پر میلمستون برید.

د اپریل پر ۳۰ نېټه د لوګر په پېښه کې، له چاودېدونکو توکو ډک موټر چې د میلمستون په انګړ کې پارک شوی و او د روژه ماتي پر مهال یې چاودنه وکړه. دغه چاودنه د څلورو ملکي نارینه وو د وژنې او ۱۱۸ نورو ملکیانو (۲۸ هلکان، ۱۱ نجونې، ۱۱ ښځې، او ۶۸ نارینه) د ژوبلېدو لامل شوه. پر دې سربېره چاودنې ولایتي روغتون، کورونو، هټیو او یوه ځایي راډیو سټیشن ته سخت زیان واړاوه. د راپورونو له مخې ۲۰ امنیتي ځواکونه، چې باور کېږي د برید هدف وو، هم وژل شوي. هېڅ ډلې د برید مسؤلیت پر غاړه نه دی اخیستی.

یوناما له دولت ضد عناصرو غوښتنه کوي چې په هغو سیمو کې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو کارونه ودروي چېرې چې ملکي وګړي شتون لري. د بشرپالنې نړیوال قانون د جګړې له ښکېلو خواوو غوښتنه کوي چې د توپیره او تناسب اصولو ته درناوی وکړي او ټول ممکنه احتیاطي اقدامات ترسره کړي څو د ملکیانو د ناڅاپي مړینې، ژوبلې یا ملکي شتمنۍ ته زیان راکم کړي.[23] یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې په عمدي ډول د ملکي وګړو په نښه کول ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.

---

[20] په دربیمه مشترکه ماده کې تصریح شوي، الحاقي دویم پروتوکول، ۴، ۱۳ مادې. د بې توپیره بریدونو لپاره، دغه راز وګورئ د لومړي پروتوکول ۵۱ ماده (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړې د تطبیق وړ نه دي خو د نړیوال عرفي قانون په څیر منل شوي – د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۱ قاعده)؛ څارنوال د دوشکو تادیچ په مقابل کې، *IT-94-1*، د رسیدګۍ د صلاحیت په اړه د مقدماتي استیناف غوښتنې د دفاعیې په اړ د استیناف دیوان فیصله، ۲ اکتوبر، ۱۹۹۵، پاراګراف ۱۲۷. د دې مکلفیت په رابطه چې باید د جګړې د وسایلو او میتودونو په غوره کولولو کې ټول شوني احتیاطي تدابیر ونیول شي په دې موخه چې د ملکیانو ژوند ته له اتفاق زیان، د ملکیانو ژوبل کېدل، او ملکي شیانو ته د زیان اوښتل مخنیوی وشي، ، دغه راز وګورئ د لومړي پروتوکول ۵۷ ماده (۲) (ا) (ii)(پر غیر نړیوالو وسله والو جګړې د تطبیق وړ نه دي خو د نړیوال عرفي قانون په څیر منل شوي – د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۷ قاعده)؛

[21] په ۱۹۹۸ کال کې، د پرسونل ضد ماینونو د کارونې د مخنیوي، زیرمه کولو او لیږد  او د هغوي د له منځه وړلو د کنوانسیون ("د ماینونو د بندیز تړون") تر تصویب یو کال وروسته، ملا عمر یوه اعلامیه خپره کړه چې د څمکنیو ماینونو کارونه یې په کلکه غندله، د ملکي وګړو په وړاندې یې د هغوي ویجاړونکې ځواک پېژنده، او د هغوي پر کارونه یې د بشپړ بندیز غوښتنه کوله او په ډاګه کوله یې چې هر څوک چې دغه ماینونو د شخصي، سیاسي یا د بل کوم هدف لپاره کاروي، له اسلامي شریعت سره به سم مجازات شي. دغه اعلامي د ماینونو د بندیز له تړون سره خپل غښتلي ملاتړ په ډاګه کړ.

سیاسي یا کوم بل توپیر به د اسلامي قانون سره سم مجازات شي. اعلامیه د ماین بان تړون څخه قوي ملاتړ څرګند کړ. تر دې دمه ، طالبانو جوړ شوي د فشار سره چاودېدونکو توکي کاروي چې د پرسونل ضد ماینونو په توګه کار کوي.

[22] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون ۳۰ هغې ترمنځ د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د موټر بم له امله د ۲۰۲۰ کال په ورته موده کې د ۳۸ (۱۰ مړه او ۲۸ ټپیان) په پرتله ۵۴۸ ملکي تلفات (۱۰۰ مړه او ۴۴۸ ټپیان) مستند کړي.

[23] په په دربیمه مشترکه ماده کې تصریح شوي، الحاقي دویم پروتوکول، ۴، ۱۳ مادې. د بې توپیره بریدونو لپاره، دغه راز وګورئ د لومړي پروتوکول ۵۱ ماده (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړې د تطبیق وړ نه دي خو د نړیوال عرفي قانون په څیر منل شوي – د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۴ قاعده)؛ څارنوال د دوشکو تادیچ په مقابل کې، *IT-94-1*، د رسیدګۍ د صلاحیت په اړه د مقدماتي استیناف غوښتنې د دفاعیې په اړ د استیناف دیوان فیصله، ۲ اکتوبر، ۱۹۹۵، پاراګراف ۱۲۷. د نامتناسبو بریدونو لپاره، د لومړي الحاقي پروتوکول، ۸۵ (۳)(ب) ماده وګورئ (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړې د تطبیق وړ نه دي خو د نړیوال عرفي قانون په څیر منل شوي – د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۱ قاعده). د احتیاطي تدابیر لپاره دغه راز وګورئ د لومړي پروتوکول ۵۷ ماده (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړې د تطبیق وړ نه دي خو د نړیوال عرفي قانون په څیر منل شوي – د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د څېړنې ۱۵-۲۲ قواعد).

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په عمده ډول د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ۲۰۲۰ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله په ملکي تلفاتو کې د ۴۱ سلنه زیاتوالی لامل شوې. د غیر مستقیمو وسلو – په

**د جګړې له امله له ۲۰۰۰۰ څخه زیات افغانان په دې دلیل بېځایه شوي، چې د سیمې د کنټرول د بدلېدو په دوام کې د حالاتو له خرابېدو او احتمالي ناوړه چلند څخه وېره درلوده**

عمده ډول د هاوانونو او توپونه – په افغانستان کې د ځمکنیو نښتو له امله د زیاترو (له ۶۰ سلنې څخه زیاتو) ملکي تلفاتو اړول جاري ساتلي. په هغو ځایونه کې چېرې چې دغه وسلې کارول شوي د ملکي وګړو او ملکي شیانو د ساتنې او خوندیتوب په اړه جدي اندېښنې را ولاړې کړي. په ملکي میشتو سیمو کې د دغو وسلو د کارونې له امله ښځې او ماشومان لا اوس هم په نامتناسب ډول اغېزمن کېږي، چې د ځمکنیو نښتو پرمهال د غیر مستقیمو وسلو له امله د ملکي تلفاتو دوه پر درېیمه برخه جوړوي، په ځانګړي ډول د هغو وسلو له امله چې د هغوی پر کورونو لګېږي کله چې دوی په خپلو کورونو کې پناه اخلي.

د مثال په ډول، د جون پر ۲۰ نېټه د بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې، شپږ ملکیان (درې نجونې، دوه هلکان او یوه ښځه) هغه مهال ووژل شول او دوه نور (یوه نجلۍ او یو هلک) ټپیان شول، کله چې د ځمکنۍ نښتې پرمهال هاوان ګوزار شو او د ملکیانو پر کور ولګید. په ورته ورځ، د کلي پر بازار هم هاوانونه ولګېدل چې له امله یې اور لګېدنه رامنځ ته شوه او ۵۰ ځایي هټۍ یې تخریب کړې. د هاوانونو له امله رامنځ ته شوي ملکي تلفات هېڅ لوري ته د هغو ځایونه له امله چې دغه هاوانونه ورڅخه ګوزارېدل، نه شول منسوب کېدای. په دې ترتیب یوناما دغه تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو (افغان ملي پولیسو، افغان ملي اردو او د ملي امنیت ریاست) او دولت ضد عناصرو (طالبانو) ته منسوب کړي، څوک چې ټول دغه مهال په جګړه کې ښکېل وو. یوناما د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ټول افغانستان کې په سلګونو دغه ډول پېښې مستندې کړې.

هدفي وژنې لا اوس هم په افغانستان کې د ملکي تلفاتو درېیم مخکښ لامل پاتې دی، چې د ۲۰۲۱ کال[24] د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ ترمنځ یې ۷۴۱ ملکي تلفات (۴۰۳ مړه او ۳۳۸ ټپیان) اړولي، چې په ۲۰۲۰ کال[25] کې د ورته مودې په پرتله یو څه زیاتوالی ګڼل کېږي. د دغو له جملې، ۴۵۷ ملکي تلفات چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د هدفي وژنو له امله رامنځ ته شوي (د ملکي وګړو د عمدي په نښه کولو په اړه پورته برخه وګورئ).[26] د هدفي وژنو په پاتې نورو هغو کې، آن هغه مهال کله چې ملکیان د دغو بریدونو هدف نه وو، د وسلو بې توپیره کارونه او د اړینو احتیاطي تدابیرو په رعایتولو کې پاتې راتلل، په شا و خوا سیمو کې د ملکیانو د ناځاپي زیان لامل شوي. د مثال په ډول، د مۍ پر ۳ نېټه په فراه ښار کې، د ښار له ګڼې ګوڼې په ډکه سیمه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د یوه لوړپوړي چارواکي په وړاندې د دولت عناصرو له خوا یو برید ترسره شو. د هغو سرېږه چې په نښه شوي وو، د ۱۰ هلکانو، یوې ښځې او اتو نارینه‌و په ګډون، په سیمه کې ۱۹ ملکي وګړي هم ژوبل شوي وو.

په پای کې، هوایي بریدونه په ځانګړي ډول د افغان هوایي ځواک له خوا، لا اوس هم یوه اندېښنه ګڼل کېږي څرنګه چې د دغو بریدونو له امله د ملکي تلفاتو شمیر لا اوس هم مخ په لوړېدو دی. په عمومي ډول، یوناما د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۳۳ سلنه زیاتوالی مستند کړی. په داسې حال کې چې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله، د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې هوایي بریدونو ۱۱ سلنه لږ ملکي وګړي وژلي، دوی ۸۷ سلنه زیات ملکیان ټپیان کړي. د هوایي بریدونو د پېښو اکثریت چې د یوناما له خوا ثبت شوي او د ملکي زیان لامل شوي، افغان هوایي ځواک ته منسوب شوي.[27]

---

[24] د هدفي وژنو له امله د ۷۴۱ ملکي تلفاتو له جملې، ۵۲ ملکي تلفات (۳۱ مړه او ۲۱ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. د هدفي وژنو په دغو شمیرو کې دواړه هغه ملکي چې په نښه شوي او نور هغه چې د نورو غیر ملکي افرادو له په نښه کولو څخه اغېزمن شوي، شامل دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې د راپور د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

[25] د ۲۰۲۰ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ ترمنځ، یوناما د هدفي وژنو له امله ۷۳۳ ملکي تلفات (۳۹۵ مړه او ۳۳۸ ټپیان) مستند کړي.

[26] سربېره پر دې، د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا عمدي وژنې مستندې کړې کومې چې د ۳۴ ملکي تلفاتو (۲۲ مړه او ۱۲ ټپیان) لامل شوې.

[27] د دغه راپور د خپرېدو پرمهال، یوناما د ۲۰۲۱ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د جون تر ۳۰ هغې پورې هوایي برید اته پېښې چې ۳۰ ملکي تلفات (۹ مړه او ۲۱ ټپیان) یې اړولي، نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. یوناما لا تر اوسه د ځینو دغو پېښو ویش نه دی بشپړ کړی، او د راپور د خپرولو تر وخت پورې د افغان هوایي ځواک او د نړیوالو نظامي ځواکونو منسوبونه شاید بدلون ومومي. یوناما همدارنګه د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د پېښو په اړه د تورونو تعقیبول جاري ساتلي کومو چې ملکي زیان رامنځ ته کړی.

افغان هوایي ځواک د ۲۰۲۰ کال له مارچ راهیسې او د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جګړې د زیاتېدو راهیسې د دولت پلوه ځواکونو د هوایي ملاتړ په پار د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو د کمښت پرمهال لومړنۍ رول ترسره کړی. دغه کار د هوایي بریدونو د ترسره کولو لپاره د پام وړ شمیر غوښتنو د زیاتېدو لامل شوی: افغان هوایي ځواک خبر ورکړی چې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د غوښتل شویو هوایي بریدونو شمیر له ۱۳۶۴ څخه د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۴۲۵۳ ته لوړ شوی. سربېره پر دې، افغان هوایي ځواک خبر ورکړی چې د ۲۰۲۱ کال د جنوري د لومړۍ نېټې او د جون د ۳۰ ترمنځ له موجوده ۴۲۵۳ اهدافو څخه، دوي پرېکړه کړې چې د وړاندیز شوي هدف په شا و خوا سیمه کې د ملکیانو او عامه اسانتیاوو د شتون له امله ۲۶۶ هوایي بریدونه تر سره نه کړي، چې په دې کې د ۲۶ داسې مواردو تشخیصول شامل دي، کله چې د دغو اهدافو د په نښه کولو په موخه پروازونه لا وار د مخه ترسره شوي وو.[28] په داسې حال کې چې د ملکي وګړو د ساتنې په پار دغه ډول تدابیر په ښه ډول ملاحظه شوي، یوناما بیا هم په دې اړه اندېښمنه ده چې د افغان هوایي ځواک د بریدونو له امله د ملکي تلفاتو شمیر په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله دوه برابره زیات شوي.[29]

د مۍ پر ۲۷ نېټه په یوه پېښه کې، د سرپل ولایت په صیاد ولسوالۍ کې، د افغان هوایي ځواک له خوا په ترسره شوي هوایي برید کې، چې د راپورونو له مخې یې د طالبانو د ځایي قوماندان هستوګنځی او میلمستون په نښه کړی و، د اوو ملکي وژنو (درې نجونې، دوه ښځې، یو هلک او یو سړی) او شپږو ملکي ژوبلو (پنځه ښځې او یو هلک) لامل شوی.

د افغان هوایي ځواک له خوا د ترسره شویو هوایي بریدونو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالي سره، یوناما له افغان ملي اردو او هوایي ځواک څخه غوښتنه کوي چې په نښه کولو کړنې بیا وګوري او و ډاډ ترلاسه کړي چې د پېښو خېړنې لپاره کافي اقدامات شتون لري چې ملکي وګړو ته زیان رسوي، ، او له دغو پېښو دا زده کړې شوي چې په راتلونکو عملیاتو کې د زیان کچه راکمه کړي او مسوول خلک د قانون منګولو ته وسپاري.

*مثبت تحولات*

د ۲۰۲۱ کال لومړیو شپږو میاشتو له ۲۰۲۰ څخه د ځینو مثبتو بهیرونو دوام په ډاګه کړ، چېرې چې د تیر کال برعکس، د دوه ډول پېښو له امله په ملکي تلفاتو کموالی رامنځ ته شوی – د نړیوالو نظامي ځواکونو هوایي بریدونه او د دولت ضد عناصرو ځانمرګي بریدونه. څرنګه چې د یوناما د ۲۰۲۰ کال او د ۲۰۲۱ کال د لومړۍ ربع د ملکي وګړو د ساتنې په راپورونو کې ملاحظه شوي، دغه ډول پېښو د ۲۰۲۰ کال د فبروي د ۲۹ نېټې د متحده ایالاتو-طالبانو تړون راهیسې کم شمیر ملکي تلفات اړولي. ځانمرګو بریدونو په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې پرمهال د ۱۵۴ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۱۲۶ ټپیان) په پرتله د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۹۲ ملکي تلفات (۱۴ مړه او ۷۸ ټپیان) اړولي. یوناما په ورته ډول د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې داسې کوم هوایي برید نه دی تایید کړی چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوی وي او ملکي تلفات یې اړولي وي.[30]

## مۍ-جون ۲۰۲۱

د ۲۰۲۱ کال په اپریل کې، له افغانستان څخه د نړیوالو نظامي ځواکونو د وتلو په تړاو خبرتیاوې پیل شوې، چې بالاخره ټولو یې دا تاییدوله چې دوي به د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر تر پای خپل وتل بشپړ کړي.[31]

د ۲۰۲۱ کال د مۍ د لومړۍ او جون د ۳۰ ترمنځ، په امنیتي وضعیت کې د پام وړ بدلونونو پرمهال، یوناما په مۍ-جون کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر تلفات مستند کړي له کوم وخت راهیسې چې په ۲۰۰۹ کال سیستماتیکه مستندونه پیل کړې. د ملکي تلفاتو کچې له هغو لړ څه پورته شوې چې په ۲۰۱۷ کال مشاهده شوي، کومې چې پخوا په مۍ-جون کې ترټولو لوړې ثبت شوې کچې ګڼل کېدې.

---

[28] د افغان هوایي ځواک د قوماندې له خوا مکتوب، ۶ جولای ۲۰۲۱، د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دی.

[29] د ۲۰۲۱ کال د جنوری د لومړۍ نېټې او جون د ۳۰ ترمنځ، یوناما د افغان هوایي ځواک په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې پرمهال له ۳۶ پېښو څخه د ۱۹۱ ملکي تلفاتو (۸۷ مړه او ۱۰۴ ټپیان) په پرتله له ۸۰ هوایي بریدونو له امله ۳۸۹ ملکي تلفات (۱۴۶ مړه او ۲۴۳ ټپیان) مستند کړي.

[30] یوناما د یو شمیر پېښو یادونه کوي چې نامعلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي او لا تر اوس نه دي ویشل شوي. ۲۶ شمیره لمن لیک وګورئ.

[31] د ناټو د ۲۰۲۱ کال د اپریل د ۱۴ نېټه اعلامیه https://www.nato.int/cps/en/natohq/official_texts_183146.htm?selectedLocale=en؛ د متحده ایالاتو د ولسمشر د ۲۰۲۱ کال د اپریل د ۱۴ نېټې اعلامیه https://www.whitehouse.gov/briefing-room/speeches-remarks/2021/04/14/remarks-by-president-biden-on-the-way-forward-in-afghanistan/؛ د برېتانيې د دفاع وزیر د ۲۰۲۱ کال د اپریل د ۱۴ نېټې اعلامیه https://www.gov.uk/government/news/defence-secretary-statement-on-uk-forces-in-afghanistan؛ د جرمني د دفاع وزارت اعلامیه https://twitter.com/BMVg_Bundeswehr/status/1382647467569774594?form=MY01SV&OCID=MY01SV وګورئ.

د ۲۰۲۱ کال د مۍ د ۱ او د جون د ۳۰ ترمنځ، یوناما ۲۳۹۲ ملکي تلفات (۷۸۳ مړه او ۱۶۰۹ ټپیان) مستند کړي، چې په عمده ډول د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو (۴۰ سلنه) او ځمکنیو نښتو (۳۲ سلنه) له امله رامنځ ته شوي. د ځانګړې اندېښنې وړ ګڼل کېږي، چې دولت ضد عناصرو د تېرو څلورو میاشتو د ټول شمیر ملکي تلفاتو په پرتله د ۲۰۲۱ کال په مۍ-جون کې د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله زیات ملکي تلفات اړولي، او او همدغه د افغان هوايي ځواک پر هوايي بریدونو هم د تطبیق وړ ده – سره له دې چې ټولو هوايي بریدونو کم شمېر ملکي تلفات اړولي. سربېره پر دې، ځمکنیو نښتو د ۲۰۲۱ کال په مۍ-جون کې د ملکي تلفاتو نږدې ورته شمېر اړولی کوم چې دوی د ۲۰۲۱ کال د جنوري-اپریل په ټولو لومړنیو څلورو میاشتو کې رامنځ ته کړی.

په داسې حال کې چې د دغې مودې پرمهال د زیات شمېر ولسوالیو د اداري مرکزونو کنټرول لاس په لاس بدلون کړی، ځینې وختونه په سیمه کې د ښکېلو خواوو او ملکیانو ترمنځ د ترتیباتو پر بنسټ، همدارنګه په ملکي میشتو سیمو او د هغوی په شا و خوا کې د پام وړ جګړې رامنځ ته شوې. ملکي وګړي د جګړې نویو سیمو ته د نږدیوالي له امله اغېزمن شوي، چې یا خو طالبان دغو سیمو ته ننوتي، او یا افغان ملي امنیتي ځواکونو د جغرافیا د بیرته کنټرول ترلاسه کولو هڅه کړې. دغه کار د هیواد له مختلفو برخو څخه د مکررو راپورونو له مخې چې بیا وروسته تایید شوي هم دي، د بې توپیره هاوانونو او راکټونو په ګوزارولو سره د ملکي تلفاتو او د ملکي شتمنۍ او عامه زیربناوو د تخریب لامل شوی.

د کووېډ-۱۹ د درېیمې څپې پرمهال افغانان له زیاتو جګړو سره مخ شوي او دولت د وچکالۍ اعلان کړی، چې د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له ۲۰۰۰۰۰ څخه د زیاتو افغانانو د بېځایه کېدو لامل شوي.[32] د ځمکنیو نښتو پرمهال د بې توپیره توپونو ګوزارول، د فشاري ماینونو په ګډون د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو کارونه او هوايي بریدونه ټول په ملکي میشتو سیمو کې ترسره شوي چې نه یوازې د لوړ شمیر ملکي تلفاتو بلکه دغه راز د خلکو ترمنځ د دې ویرې لامل شوي چې جګړې د هغوی د کورونو دروازو ته راغې. کورنۍ د جګړې له امله له خپلو کورونو بېځایه شوي، د هغوی په شا و خوا سیمو کې د جګړې له امله اجبارا یا د وضعیت د خرابېدو په وړاندوینې سره مخه نیونکې پریکړې په تعقیب بل ځای ته کډه شوي.

**د ۱۳-۱۵ مۍ د کوچني اختر اوربند**

د دولت او طالبانو له خوا په یو اړخیز ډول د روژې د مبارکې میاشتې د پای ته رسېدو د لمانځلو په پار د کوچني اختر اوربند اعلان شو. د مۍ ۱۳-۱۵ مودې پرمهال چې اوربند اعلان شوی و، یوناما ټولټال ۹۹ ملکي تلفات (۳۸ مړه او ۶۱ ټپیان) مستند کړي چې له نیمه یې زیات هغه د دوه بریدونو له امله رامنځ ته شوي چې د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې یې مسؤلیت اخیستی. د نوموړې ډلې له خوا مسؤلیت منل شوی لومړی برید د مۍ پر ۱۳ نېټه د کندز ښار په زیر دوره سیمه کې هغه مهال رامنځ ته شو کله چې پر لویه لار له یوه دوکان څخه بهر تر میز لاندې ځای پر ځای چاودېدونکې توکي وچودل، چېرې چې زیات شمیر ملکیان د اختر د لمانځلو لپاره چمتوالی نیوه چې له امله یې دوه ملکیان (یو هلک او یو سړی) ووژل شول او ۱۵ نور (دوه نجونې، یو هلک، او ۱۲ نارینه) ټپي شول. دویمه پېښه تر دغې پېښې یوه ورځ وروسته د کابل ولایت په شکر دره ولسوالۍ کې د مۍ پر ۱۴ نېټه هغه مهال رامنځ ته شوه کله چې د جمعې لمانځه پرمهال په یوه صوفي جومات کې ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو چاودنه وکړه، چې له امله یې ۱۰ ملکیان (دوه هلکان او ۸ نارینه) ووژل شول او ۲۵ نور ملکیان (څلور هلکان او ۲۱ سړي) ژوبل شول.

د دریو ملکي تلفاتو په استثنا چې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله اوښتي، د اختر په ورځو کې مستند شوي پاتې ۴۴ ملکي تلفات د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي چې طالبانو یا نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، د کومو په اړه چې دا نه شي معلومېدای چې ایا دغه وسیلې د اوربند له مودې مخکې یا د هغې پرمهال ځای پر ځای شوې وې. په زیاترو دغو پېښو کې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو فشاري ماینونه شامل وو. یوناما د اختر د اوربند پرمهال دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کوم ملکي تلفات نه دي مستند کړي.

**پر ښوونځیو او روغتیا پالنې بریدونه**

---

[32] پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د اوچا افغانستان دفتر د بشري مرستو اونیز معلومات وګورئ (۲۱-۲۷ جون ۲۰۲۱) چې په ۲۰۲۱ کال کې تر دې دمه د جګړو له امله د ۲۰۵۳۸۶ وګړو بېځایه کیدنه په ډاګه کوي:

https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/afghanistan_humanitarian_weekly_27_june_2021.pdf

یوناما پر روغتیايي او تعلیمي مرکزونو او کارمندانو د هغو بریدونو په دوام چې د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې رامنځ ته شوي، اندېښمنه ده. په دې کې پر ښوونځیو، روغتونونو او د هغوي پر کارمندانو مستقیم بریدونه او هغه جګړې شاملې دي چې دوي ته تصادفي زیان اړوي. دغه بریدونه د کوویډ-۱۹ وبا د وضعیت پر مهال، د اړوندو واکسینو د پیل او د کوویډ-۱۹ له امله د پولیو واکسینو د زیاتېدو په پام کې نیولو سره، په ځانګړي ډول له وحشت ډک ګڼل کېږي.[33] یوناما د دولت ضد عناصرو ته یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې طبي مرکزونه او واحدونه او همدارنګه د واکسیناتورانو په ګډون طبي کارمندانو ته د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ځانګړې ساتنه او خوندیتوب تضمین شوي.[34]

پر ښوونځیو د بریدونو په تړاو، یوناما د ښوونځیو او کارمندانو په مستقیم ډول هدف ګرځولو تولټال ۱۶ پېښې او ۲۶ نورې پېښې مستند کړې په کومو کې چې ښوونځي یا تعلیمي پرسونل په تصادفي ډول اغېزمن شوي. د دې له جملې، تر ټولو زړه بګنوونکې پېښه په کابل ښار کې د سید الشهداء ښوونځي مخې ته برید، چې د لیک لوست د پای ته رسېدو پر مهال یې زده کوونکي په نښه کړل او له امله یې له ۳۰۰ څخه زیات ملکي تلفات رامنځ ته شول (د لا زیاتو معلوماتو لپاره پورته، په عمدي ډول د ملکي وګړو د په نښه کولو برخه وګورئ).

د جګړې ښکېلو خواو پر روغتیايي مرکزونو او کارمندانو د بریدونو ترسره کول جاري ساتلي. د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، پر روغتیايي مرکزونو او کارمندانو په مستقیم ډول د هدف ګرځولو ۲۸ پېښې چې د ۱۲ ملکیانو د وژل کېدو او د ۱۳ نورو د ژوبل کېدو لامل شوي او ۲۴ نورې مستند کړې چېرې روغتیايي مرکزونه یا کارمندان په ناځاپي ډول اغېزمن شوي. د دولت ضد عناصرو له خوا په جلال آباد کې په مارچ او جون میاشتو کې د پولیو واکسینو پر کمپاین تنظیم شوي بریدونه د ځانګړې اندېښنې وړ وو (د لا زیاتو معلوماتو لپاره پورته، په عمدي ډول د ملکي وګړو د په نښه کولو برخه وګورئ).

### د جغرافیايي کنټرول د بدلون پرمهال د ملکي شتمنۍ او بشري حقونو ساتنه

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو په ځانګړي ډول په مې او جون کې جغرافیايي کنټرول بدلون کړی، یوناما له ملکیانو او ملکي شتمنۍ سره د چلند په اړه اندېښمنوونکي تحولات مستند کړي، لکه د ملکي شتمنۍ او زیربنا عمدي تخریب او هغه بریدونه چې ښکاري په عمدي ډول هغه شیان په نښه کوي کوم چې د ملکي وګړو د پایښت لپاره اړین ګڼل کېږي، دغه راز هغه راپورونه چې د افرادو پر حقونو یو شمیر محدودیتونه وضع کوي.

د ۲۰۲۱ کال په مې او جون میاشتو کې، یوناما د ملکي کورونو، ښوونځیو، کلینیکونو، د برېښنايي او مخابراتي پایو، د اوبو رسونې د شبکو، پلونو، دوکانونو، هستوګنیزو ودانیو لوټل او تخریبول مستند کړي.[35] د ملکي شتمنۍ د عمدي تخریب زیاتره پېښې چې یوناما تایید کړي طالب جنګیالیو ته منسوب شوي یا د هغوي په مشارکت د نوې سیمه د کنټرول له ترلاسه کولو وروسته ترسره شوي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې، هر شي کوم چې نظامي هدف نه وي ملکي شي ګڼل کېږي او تر برید لاندې نه شي نیول کېدای.[36] د جګړې ښکېلې خواوې مکلفې دي چې هر اقدام ترسره کړي چې څو ثابته کړي چې اهداف نظامي موخې دي.[37] د شک په حالت کې چې آیا یو شی کوم چې په عادي ډول د ملکي موخو لپاره ځانګړی شوی وي (لکه عبادت ځای، کور، میشت ځای، یو ښوونځي) نظامي هدف دی، دا باید ملکي شی وګڼل شي.[38]

له پراخې جګړې څخه د زیانمن کېدو د ویرې سربېره، یوناما له ټولنو داسې راپورونه ترلاسه کړي چې د طالبانو له خوا پر یو شمیر انفرادي ازادي ګانو د محدودیتونو وضع کول په ډاګه کوي، د هغو په ګډون چې په نویو نیول شویو سیمو کې شخصي او ټولنیزې ازادي ګانې اغېزمن کوي. دغه راپورونه د زیات شمیر خلکو ویره لا پسې زیاتوي که چېرې طالبان د هغوي سیمې ونیسي د هغوي حقونو ته به څرنګه درناوی

---

[33] وګورئ: https://www.unicef.org/press-releases/polio-vaccination-campaigns-resume-afghanistan-and-pakistan-after-covid-19

[34] د دویم الحاق پروتوکول ۱۱ ماده او د آی سي آر سي نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۲۵، ۲۸، ۳۵ قواعد. دغه راز وګورئ: https://www.icrc.org/en/document/ihl-covid-19-vaccinations-territory

[35] سره له دې چې د دغه راپور د راپور ورکولو له مودې څخه بهر دی، یوناما د دې یادونه کوي چې دغه ډول راپورونو تاییدول به د جولای په میاشت کې هم روان وي.

[36] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۷ قاعده. د دې په پار چې یو نظامي هدف تشکیل کړي، یو شي باید دوه اړخیزه ازموینه پوره کړي. دا باید د ماهیت، موقعیت، هدف یا کاروني له پلوه په نظامي اقداماتو کې موثره ونډه ترسره کړي، او په ورته حالاتو کې د هغه تخریب، نیونه یا له کاره غورځونه باید یوه څرګنده نظامي ګټه خوندي کړي ( د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د آی سي آر سي د څېړنې ۸ قاعده).

[37] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۱۶، ۸، ۱۰، ۱ قواعد.

[38] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۱۰ قاعده.

وشي، له هغوی سره به څرنګه چلند وشي، او د ورځنیو چارو د ترسره کولو په پار به د هغوی ورځنیا څرنګه وي. ټولنو د مختلفو طبقو په پار لکه ښځو، قومي او مذهبي لږکیو، د بشري حقونو مدافعینو او نور هغه چې د طالبانو د کړنو په خلاف څرګندونې کوي، خپلې ویرې په ډاګه کړي.

دغه راپورونه، که چېرې تایید شي، په مستقیم ډول د طالبانو د مشرتابه له خوا خپرې شوې ګڼ شمیر اعلامیې سره په تناقض کې دي، د هغو ژمنو په ګډون چې د نړیوالو ادارو د بشري مرستو کارمندانو او کارکړو، د نړیوالو نظامي ځواکونو د پخوانیو کارکوونکو، ملکیان هغه یې په لا عام ډول، ملکي شتمنې، ساتنه او درناوی به کوي، او هغه ژمنې چې هغه طالب جنګیالي به محاکمه شي څوک چې پر ملکي وګړو تېری کوي.[39] یوناما طالبانو ته د دې یادونه کوي چې د دغو اعلامیو د تطبیق ډاډمنول مهم دي او د عمل او ټولنو ته د ښکاره شوي احتساب له لارې د ملکي وګړو ساتنې خپل ژمنې څرګندې کړې، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې کومې چې په دې وروستیو کې د هغوی تر ولکې لاندې راغلې.

یوناما همدارنګه د دولت پلوه وسله والو ډلو د بیا رامنځ ته کېدو، له هغوی سره د دولت د ملاتړ، هغوی ته د وسلو د ویش، د جمعي ځانې دفاع په پار د وګړو د ملکي غړو په اړه د معلوماتو په ترلاسه کولو سره، اندېښمنه ده. د قوماندې د ښه تعریف شوي سلسله مراتبو څخه د باندې د نامنظمو وسله والو ډلو کارونه د دې خطر زیاتوي چې دغه ډلې ماتیدونکې امنیتي چاپېریال استثمار کړي، او د ساتنې هغه خطرونه چې ملکي وګړي ورسره مخ دي لا پسې زیاتوي، او همدارنګه د بشري حقونو د سرغړونو شونتیا رامنځ ته کوي.

د مثال په ډول د جون پر ۵ نېټه، د تخار ولایت په تالقان ښار کې، د یوې دولت پلوه وسله والې ډلې غړو له طالبانو سره له چا سره چې وسله واله ډلې په دې وروستیو کې وسله واله نښته ترسره کړې وه، د ملاتړ په تور څلور نارینه ملکیان ووژل او ۲۰ نور یې وتښتول، او هغوی د دوه شپو لپاره ساتلي وو. یوناما یو ځل بیا له دولت څخه غوښتنه کوي چې دولت پلوه وسله والې ډلې منحل کړي او د دغو ډول سیاسي ملاتړ له منځه یوسي. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د دغو ډلو غړي باید د ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې مدغم شي، څو د تاسیس شویو نظامي جوړښتونو له لارې د خپلو کړنو په وړاندې حساب ورکوونکې وګڼل شي.

### د دولت پالیسي ګانې او میکانیزمونه

یوناما منې چې دوامداره هڅې ترسره شوې څو ډاډمن کړي چې د ملکي وګړو د ساتنې اړوند پالیسي ګانې آن د جګړې په شدت او تاکتیکونو کې د بدلونونو پر مهال کوم چې د زیات ملکي زیان لامل شوي، تطبیق شوي.

د ۲۰۲۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې، افغان دولت د ملکي تلفاتو د پېښو د څېړلو او بیا کتلو لپاره د یوه توحید شوی میکانیزم د دوامدار کار له لارې په ملي امنیتي ځواکونو کې د ملکي تلفاتو د معلوموولو په همغږي کولو خپل کار جاري ساتلی، او د قرباني د مرستې د بیا کتل شوي سیستم کار یې بشپړ کړی. د جون پر ۲۰ نېټه، دولت همدارنګه د امنیتي سکتور په کچه د ماشومانو د ساتنې پالیسي خپره کړه. یوناما به له دولت سره خپل کار جاري وساتي څو د ماشومانو د ساتنې د نوې پالیسي په تطبیق کې مرسته وکړي او دغه راز د ملکي تلفاتو د نوي میکانیزم د تاسیس چارې بشپړې کړي.

د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ۲۰۲۰ کال په راپور کې، افغان ملي پولیس (د افغان سیمه ییزو پولیسو په ګډون)[40] د راپور له ضمیمو څخه په مشروط ډول لرې شوي او په دې ترتیب سره نور د جګړې د ښکیلې خوا په څیر چې د ماشومانو د ګمارنې او کارونې مسوول وي، نه دي لېست شوي. یوناما له دولت سره د دوامدار کار په تمه ده څو د عمل په پلان کې پاتې ګامونه بشپړ کړي، کوم چې د دې لپاره اړین دي څو افغان ملي پولیس نوموړي لېست ته بیرته ور اضافه نه کړای شي. یوناما دغه راز د دې یادونه کوي چې په ورته راپور کې، عمومي منشي افغان ملي اردو د ماشومانو د وژنې او ژوبلونې لپاره لیست کړې. افغان ملي اردو د راپور په ب ضمیمه کې لیست شوې، کومه چې هغه لېست شوي لوري په ډاګه کوي چې د راپور ورکولو په موده کې یې د ماشومانو د ساتنې د ښه کولو په پار تدابیر وضع کړي. څرنګه چې دولت د ماشومانو وژنې او ژوبلونې ستونزې ته د رسیدګۍ او حل په پار پلان چمتو کوي، یوناما به له هغه سره خپل ملاتړ جاري وساتي. یوناما سربېره پر دې یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې طالبان او له هغوی سره تړلې ډلې د ماشومانو کارونې او ګمارنې، وژنې او

---

[39] اعلامیې پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: https://alemarahenglish.net/?p=47278, https://alemarahenglish.net/?p=47541 په وروسته ځل د ۲۰۲۱ کال پر ۱۲ نېټه لیدل شوي.

[40] افغان سیمه ییز پولیس په رسمي ډول د ۲۰۲۰ کال په پای کې منحل شول. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۲۰ کال کلنی راپور وګورئ. یوناما دغه راز د ۲۰۲۱ کال په جون کې د افغان سیمه ییز پولیسو د بیا کتنې په اړه د مباحثو د پیل یادونه کوي.

ژوبلوني، پر ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو، او تښتونو لپاره په لېست کې پاتې دي، او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله د ماشومانو کاروني او ګمارنې، وژنې او ژوبلونې، پر ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو لپاره په لېست کې پاتې ده.

## میتودولوژي

*د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپلو راپورونو په پاړ، یوناما په خپلو راپورونو کې یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي. ملکي تلفات د "تایید شویو" هغو په حیث هغه مهال ثبت کېږي، چې د یوناما له خوا د کتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ دا په ډاګه شوې وي، چې څرګند او قانع کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکي وګړي وژل شوي یا ژوبل شوي. د دغه معیار د پوره کولو په پاړ یوناما لږ تر لږه درې ډوله مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، روغتیایي کارکوونکي، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچینې. چېرې چې شونې وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو او د پېښې د ځای د حقیقت موندنې د هڅو له لومړنیو سرچینو څخه تر لاسه کېږي. چېرې چې یوناما د ملکي تلفاتو د معلوماتو د کمیت یا کیفیت په اړه ډاډمنه نه وي، نو هغه د تایید شویو په حیث په پام کې نه نیسي. نا تایید شوې پېښې په دغه راپور کې نه دي شاملې شوي. یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې احصائیې بشپړې دي او دا منې چې په عملیاتي چاپېریال کې په تیره بیا د هغو ننګونو په پام کې نیولو سره چې د کووید-۱۹ وبا له امله پر خوځښت د وضع شویو محدودیتونو له امله رامنځ ته شوي، د ملکي وګړو مرګ ژوبله په بشپړ ډول نه وي راپور شوې.*

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کلنیو راپورونو ته مراجعه وکړئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنټ پاڼه کې د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports